مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۵/۰۴

# ابداليان

که څه هم چي د دې کتاب موضوع د هوتکانو د پاځون او نادرافشار په مقابل کي د هغوی وروستۍ ماته ده؛ خو ځرنګه چي په کندهار کي د هوتکانو د پاڅون او له صفوي ایران څخه د خپلواکی د اخیستلو سره سم په هرات کي د ابدالیانو پاڅون هم پیل کیږي او هغوی هم د ایران صفوي رژیم ته د سر په کاسه کي اوبه ورکړې نو ځکه د ابدالیانو په باره کي هم یوه لنډ تاریخي بحث ته اړتیا ده.
لومړنی پښتون لیکوال، چي د میرویس خان د پاڅون او له هغه څخه مخکي پېښو په وخت کي یې ژوند کړی دی او موږ ته په کندهار کي د ابدالیانو په باره کي معلومات راکوي هغه افضل خان ختک دی چي د هغه وخت ځیني پیښې یې په خپل کتاب تاریخ مرصع کي لیکلي او خوندي کړي دي. افضل خان وایي چي د کندهار اربابی او مشرتوب له ډیرو پخوانو زمانو راهیسی په ابدالیانو اړه لري او دا اربابی د خدکی سلطان په کاله کي ده. تاریخ مرصع ص۳۹۹
افضل خان ختک لیکي چي د ابدالیانو د مشر قلندرسلطان، ورور حیات سلطان خپل ورور وواژه او حیات سلطان د خپل ورور د قتل په ګناه بندي اصفهان ته واستول سو. هغه شپږ کاله هلته بندي وو او په دغه وخت کي کاکړو د ایران یوه لویه قافله، چي هندوستان ته روانه وه، په لاره کي لوټ کړه. د ایران پاچا دې پیښې ډیري اندېښمن کړ او بړغ یې وکړ چي څوک به د دې قام چاره وکړي؟ درباریانو ورته وویل چي قلندرسلطان مړ دی او ورور یې بندي دی؛ که له هغه څخه مرسته وغوښتل سي ښایي چي د کاکړو د کړارولو یو تدبیر وکړي. حیات سلطان پاچا ته اطمینان ورکړ چي د کاکړو چاره به درته وکړم. حیات سلطان پر کاکړو باندي یرغل وکړ او ډېر زیات کاکړ یې قتل کړل او د سوداګرو تاراج سوي مالونه یې بیرته هغوی ته ستانه کړل. خو د ایران د حکومت له بیګلربیګي سره د حیات سلطان اختلاف راغی او درې تنه لوی افسران یې، چي د ده په جنګ ورغلي ول، ووژل.
حیات سلطان له دې پیښی وروسته، د ایران د صفوي حکومت د حملې له ویري، له دریو زرو کورنیو سره، ملتان ته ولاړ او له هغه ځایه د اورنګزیب پاچا په خدمت کي حاضر سو. حیات سلطان اورنګزیب ته وویل چي که یې کندهار په کار وي نو دا مهم پرمخ بېولای سي. اورنګزیب هغه ته پنځه سوي منصب ورکړ او ورته وې ویل چي ته ملتان ته ولاړ سه د کندهار مسله به وروسته پر مخ بوزو. حیات سلطان اوس هم په ملتان کي ناست دی خپل منصب خوري او د ایران حکومت میرویس ته ، چي یو غلجی او په غلجیوکي هوتک دی، د کندهار سرداري ورکړه. افضل خان. هغه کتاب ص ص ۴۰۰-۴۰۱
افضل خان ختک خپل تاریخ مرصع د ورځنیو پیښو په حساب لیکلی دی او چي هر څه پېښ سوي دي هغه یې د هماغي ورځي په قید ثبت کړي دي. دا چي دی وایی حیات سلطان اوس هم په ملتان کي ناست دی؛ د دې معنا دا نه ده چي دا ګوندي د ده د تاریخ وروستی فصل او د لیکني وروستۍ ورځي دي. بلکه څو مخه وروسته د ۱۷۱۲ کال نکل کوي چي خپل کاکا عبدالقادرخان ختک او شهباز یې له زامنو سره او عبدالله او محمد ټول بندیان کړي دي. البته راوړتي وایی چي په هغه شپه یې شاوخوا ۱۴ تنه اکاګان او د هغوی زامن په خپله قلا کي ووژل. افضل خان بیرته شاته هم ګرځي او خبره بیرته اووه لسمي پیړۍ ته ځي او له خپلو تربرونو سره د جګړو بیان کوي او . . .
افضل خان وایی چي په کندهار او شاوخوا سیمه کي د پښتنو مشري میرویس خان ته وسپارله سوه. کله چي مخکنیو پیښو ته وګورو او د افضل خان دا خبره په نظر کي ونیسو چي وایی حیات سلطان اوس په ملتان کي دی نو داسي ښکاري چي کندهار ته د ګرګین د رسېدلو او د پورتنیو پیښو ترمنځ باید لږترلږه پنځه لس شل کاله فاصله وي. ځکه کله چي میرویس خان کندهار ته رسیږی دا وخت هغه په قوم کي یومنل سوی مشر دی او ګرګین، چي یو جاه طلبه او مغرور انسان وو، د هغه له قدرت سره رقابت کوي او کله چي یې زور نه رسیږي نو هغه اصفهان ته استوي.
تاریخ سلطاني هم لیکي چي په کندهار کي له غلجیو څخه مخکي واک د ابدالیانو په لاس کي وو، خو له غلجیو، په تېره بیا توخو، سره یې په سوله کي ژوند کاوه. خو کله چي دولت خان سدوزی په ۹۱۵ هـ ق کي پر هغوی باندي حمله وکړه او د هغوی اکثریت یې وځپل نو حسین بن ملکیار یې، چي د میرویس پلار وو، د خپلو ټول کهول سره یرغمل ورسره واخیست او په ښارصفا کي یې واړول. تر څو چي د جعفرخان سدوزي کامران خیلی له وفات څخه وروسته د هغه کور بې سرپرسته سوه او یوه کونډه مېرمن درخو او یو لور خانزاده یې پاته سوه. دې کورنۍ میرویس


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ته د خانزاده د کوزده کولو غوښتنه وکړه او میرویس هم سمدستی ومنله او له خانزاده سره یې واده وکړ. ص ص ۷۰-۷۱

البته دلته له سلطان محمدخان څخه د کلونو په برخه کې ډېره سخته غلطی سوې ده. ځکه چې که دولت خان پر غلجیو باندې په ۹۱۵ هـ ق ( ۱۵۰۹ م) کې یرغل کړی وي او د میرویس پلار او د هغه کورنی یې یرغمل کړي وي او بیا وروسته موږ ګورو چې میرویس د ۱۷۱۸ کال په شاوخوا کې وفات سوی دی نو په دې حساب باید چې میرویس څه باندې ۲۰۰ کاله ژوند کړی وي. تاریخ سلطاني که څه هم چې مغتنم کتاب دی خو د کلونو په حساب کې اشتباهات لري.

تاریخي متون موږ ته نه وایي چې حیات سلطان په ملتان کې څومره کلونه ژوندی وو؛ خو دا چې د هغه زوی او لمسی د هرات او شاوخوا سیمو په پېښو او د ایران له صفوي رژیم سره په جنګونو کې برخه لري او د حیات سلطان نوم نه یادېږي نو ځرګنده خبره ده چې باید هغه وفات سوی وي.

میرزامحمدخلیل مرعشی لیکي چې کله د حیات سلطان زوی عبدالله خان او د هغه زوی اسدالله خان ته د کندهار خبرونه ورسېدل نو له خپلو پنځو شپږو سوو سپرو سره، د ایران له هغه لښکر سره یو ځای سول چې شاه حسین صفوي د کندهار د پاځون د ځپلو لپاره لېږلی وو. مګر لکه مخکې چې مو وویل د ایران پوځ ماته وکړه او خسروخان ووژل سو نو عبدالله خان او اسدالله خان هم هرات ته ولاړل. د هرات حکومت د عباسقلي خان په لاس کې وو او په لومړي سر کې یې د هغوی هرکلی وکړ خو وروسته چې په قوم کې د عبدالله خان نفوذ ورته معلوم سو نو د هغه له قدرته وبېرېدی او پلار او زوی یې دواړه بندیان کړل. په دغه وخت کې د هرات قزلباشو د عباسقلي خان د ظلمونو او بد سلوکي له امله بښورښ وکړ. عباسقلي خان یې له کاره لیری کړ. د هغه پر ځای یې جعفرخان استاجلو مقرر کړ او د ایران پاچا ته یې د عباسقلي خان په باره کې شکایت واستاوه.

عبدالله خان او اسدالله خان له دغه فرصت څخه ګټه واخیستله او له بندیخانې څخه وتښتېدل او له خپل قوم سره یوځای سول. ابدالیانو هم سمدستي عبدالله خان په مشرتوب ومانه. دلته، د دې موضوع په ارتباط، مجبور یم چې د صدیق فرهنګ په نوم یوه مورخ یوه کیسه راوړم چې ټوله بې اساسه افتراء او یوازې او یوازې یې، د خپل لېوني تعصب په اساس، پښتنو ته د سپکاوي له امله په خپل تاریخ کې درج کړې ده. فرهنګ د پورتینو پېښو په ارتباط لیکي:

« . . . د یوه بل روایت له مخې چې، جې پی فیریر فرانسوي سیاح او سیدبهادرشاه ظفر ذکر کړی دی، زمان خان قورچي باشی ایراني حکمران اسدالله خان ته چې یو ښکلی ځوان وو، نیت بد کړ او هغه یې خپل ځان ته ور وغوښت. مګر اسدالله خان وتښتېدی او ابدالي قبایل یې پر ځان راغونډ کړل او کله چې یې د هرات ښار ونیوی نو قورچي باشي یې له خپل پلار سره، چې له حکمران سره یې لاره یوه کړې وه، یوځای وواژه او پخپله د هرات مستقل واکمن سو» افغانستان در پنج قرن اخیر جلد اول ص ۷۴ *

---

* فرهنګ دا غلط معلومات، په لوی لاس، د هانوې له تاریخ څخه، چې هم یې اروپایی او هم یې افغاني مورخین ګمراه کړي دي، را اخیستي دي. هانوې د اسدالله خان د پلار نوم نه یادوي( یقیناً چې زده به یې نه وو) او لیکي چې د هرات ایراني حکمران غوښتل چې له ښکلي اسدالله خان سره نارواجنسي اړیکې ولري نو د هغه له پلار څخه یې غوښتنه وکړه چې اسدالله خان راضي کړي. د اسدالله خان پلار هم ، د مادي امتیازاتو د ترلاسه کولو په طمع، خپل زوی له حکمران سره ناروا جنسي اړیکو ته تشویق کړ. اسدالله خان د پلار خبره ونه منله او هغه مجبور سو چې له زوره څخه کار واخلي. اسدالله خان خپل قومیان پر ځان راغونډ کړل او خپل پلار او حکمران یې دواړه ووژل. Hanway vole1 p 62

فرانسوي جنرال ( سیاح نه دی) فیریه په دې کیسه کې د اسدالله خان پلار ور اضافه کړی او د هغه د پلار نوم یې حیات سلطان لیکلی دی چې هغه ډېر مخکې په ملتان کې وفات سوی او د اسدالله خان پلار نه بلکه نیکه وو. فیریه حتا وایی چې حیات سلطان خان خپل زوی اسدالله د هرات ایراني حکمران ته واستاوه او هغه په زور جنسي تېری ورباندې وکړ. اسدالله خان له دغه امله خپل پلار حیات سلطان وواژه او وروسته یې زمان خان تعقیب کړ او هغه یې د زمینداور په علاقه کې له خپلو ورسره عسکرو سره وواژه. . . J. P. Ferrier p35

بهادرشاه ظفرکاکا خېل هم، چې ښایي د هانوې کتاب ته به یې لاسرسی نه درلود، دا کیسه د فیریه له تاریخ څخه نقل کړې ده او پر دې کیسه باندې یې د غور کولو تکلیف ځان ته نه دی ورکړی. ده هم حیات سلطان د اسدالله خان پلار بللی دی. پښتانه د تاریخ پهرڼا کې ص ۶۵۴

فرهنګ، د یوه هوښیار متعصب تاریخ لیکونکي په حیث، په دې خبر وو چې حیات سلطان د اسدالله پلار نه بلکه نیکه وو او هغه کلونه مخکې په ملتان کې وفات سوی وو نو یې قصداً د اسدالله خان پلار عبدالله خان معرفي کړی دی.

فرهنګ باید فکر کړی وای چې په دغه وخت کې د هرات ګورنر محمدزمان خان قورچي باشي نه بلکه عباسقلي خان شاملو وو. عباسقلي خان چا وژلی نه دی بلکه ایران ته ولاړ او د جنسي تېري یا جنسي تمایل کیسه هم هانوې له ځانه جوړه کړې او، د فرهنګ په څېر نورو بې خبرو یا مغرضو مورخینو، نقل کړې ده. په داسې حال کې چې اسدالله خان د محمود هوتک سره په جنګ کې ووژل سو او پلار یې عبدالله خان ژوندی وو او هغه وروسته د احمدشاه بابا له پلار محمدزمان خان سره په جنګ کې ووژل سو.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مورخ میرزا مهدی خان استرآبادي دا موضوع داسي ليکلي ده: « د حيات سلطان خان زوی عبدالله خان د اسدالله خان سره يوځای له ملتان څخه کيخسرو خان ته ورغلل او د ابداليانو مشرتوب يي تر لاسه کړ. تر څو چي د الهی تقديراتو په اثر، چي په هغه کي تغييراو تبديل نسته، د قندهار مقدمه هغسي سوه. ( مطلب يي د کيخسرو وژل کېدل دي ج) عبدالله له خپل زوی اسدالله سره هرات ته ولاړ او په هغه وخت کي د هرات حکمران عباسقلی خان شاملو وو.
څرنگه چي د عبدالله خان له وضعيت څخه داسي څرگندېدله چي هغه به کوم شورش ته لاس واچوي نو عبدالله او زوی يي دواړه بنديان کړل. په دې وخت کي د هرات قزلباشو د عباسقلي خان په مقابل کي شورش وکړ او هغه يي له کاره معزول کړ. وروسته له هغه چي دا موضوع د ايران دولت ته څرگنده سوه نو جعفرخان استاجلويې د هرات بيگلربيگی کړ.
په دغه وخت کي اسدالله خان او د هغه پلار له محبسه وتښتېدل او د دوشاخ غره ته ولاړل او سرکښی يي پيل کړه او د اسفزار قلا يي ونيوله. وروسته له هغه يي د هرات په دوه ميلی کي د هرات له حاکم جعفرخان سره جنگ وکړ؛ هغه يي ونيوی او ښار يي محاصره کړ. د ښار خلکو له څه وخت محاصرې څخه وروسته د مقاومت تاب رانه ووړ او له افغانانو سره يي د روغي جوړي او گډ ژوند کولو فيصله وکړه.
وروسته له هغه چي اسدالله خان د هرات له ښار څخه قزلباش وايستل نو د اسفزار افغانان هم د هرات ښار ته راغلل. په دغه ښار کي له لږ تم کېدلو څخه وروسته يي کوسويه، غوريان او د مرغاب او بادغيس سرحدات ټول ونيول. او اسدالله له دې څخه وروسته د فراه د قلا د نيولو په فکر کي سو چي يو کال مخکي د غلجيو لاسته ورغلی وه. تاريخ جهانکشای نادری ص ص ۸-۹
البته ميرزا مهدی خان د سنواتو په ذکرولو کي يا اشتباه کړې ده او يا کاتبانو سنې( سنوات) او کلونه غلط نقل کړي دي. ځکه چي مهدي خان د کندهار د پاځون کال ۱۲۳۱ هـ ق ښيي چي ۱۸۱۵ ميلادي کيږي او دا وخت په افغانستان کي د شاه محمود سدوزي دوهم ځل پاچهي ده. دغه راز د اسدالله خان له لوري د هرات د ښار نيول کېدل د ۱۳۲۹ هـ ق د روژې د مياشتي شپږويشتمه بولي چي په ميلادي حساب ۱۹۱۱ کيږي او په افغانستان کي اميرحبيب الله خان پاچا دی. زه يي ځکه د کاتبانو غلطي بولم چي ميرزا مهدي خان استرآبادي يو مشهور مورخ وو او د کلونو په ښودلو کي دغه راز فاحش اشتباهات له هغه څخه ليري وه.
اسدالله خان د هرات له فتح کولو او په هغه ښار او شاوخوا سيموکي د خپل کنټرول له ټينگولو څخه دوه کاله وروسته پر فراه باندي حمله وکړه او هغه ښار يي، چي تر دغه وخته پوري د هوتکو په لاس کي ووو د هغوی له کنټروله وايست. په همدغه کال د ايران صفوي حکومت خپل يو تکړه جنرال فتحعلی خان ترکمان، له ډېرو زياتو پوځونو سره، د هرات پر لور واستاوه. فتحعلی خان د ۱۱۲۸ هـق ۱۷۱۵ ميلادي په شاوخوا کي هرات ته ورسېدی. اسدالله خان هم له ډېرو قواوو سره د هغه مخي ته ورغی. دواړو خواوو د پل سالار او رباط پريان په سيمه کي ډېره سخته جگړه وکړه. په لومړي سر کي افغاني پوځيانو ماته وکړه. د دايران پوځونه، د افغانانو د قواوو د تعقيبولو پر ځای، د هغوی د مالونو په چورولو لگياسول. فتحعلی خان، چي دې فتحي ډېر زړه ورکړی وو، په ډېره بې احتياطي، له خپلو سلو تنو سپرو سره، د اسدالله خان د پوځيانو تعقيب پيل کړ. د غوريان په سيمه کي، د اسدالله خان پوځيانووليدل چي له فتحعلي خان سره ډېر لږ پوځيان ملگري دي؛ سمدستي يي مخ ورباندي راواړاوه او ټول يي له تېغه تېر کړل. مجمع التواريخ ص ص ۲۱-۲۲
د اسدالله خان پوځيانو له غوريان څخه بيرته د فتحعلی خان ترکمان پر پوځيانو باندي حمله وکړه او کله چي قزلباشو ته معلومه سوه چي فتحعلی خان وژل سوی دی نو روحيات يي کمزوري سول او د مقاومت توان يي له لاسه ورکړ. قزلباشو ماته وکړه او له لږو قواوو پرته، چي ځانونه يي د جنگ له ميدان څخه ژوندي وايستل، نور ټول د افغانانو د تورو شومه سول. هغه کتاب ص ۲۴
مخکي مو وويل چي د ايران صفوي حکومت د اداري او اخلاقي فساد او د شاه حسين د سختي کمزوری له امله، چي د صفويانو په تاريخ کي د هغه په څېر کمزوری پاچا نه وو راغلی، د جدي او سمدستي تصميم نيولو او عمل کولو توان له لاسه ورکړی وو. سره له هغه چي د هرات د ښار په شاوخوا کي يي ډېر لوی جنرال له لاسه ورکړی او يو لوی پوځ يي تباه سوی وو، بيا هم، د هرات له ماتي څخه، ايله يو کال وروسته په ۱۱۲۹ هـق ۱۷۱۶ ميلادي کي خپل بل سردار صفي قلي خان، چي په لېوني مشهور وو، د هرات پر لور واستاوه. مخکي له هغه چي صفي قلي خان د هرات شاوخواته ځان ورسوي شېرغازي خان اوزبک له ماوراءالنهر څخه پر خراسان باندي حمله وکړه. صفي قلی خان د شاه حسين په امر د اوزبکانو خواته توجه واړوله او د قاجاريانو او کردانو په مرسته يي د اوزبکانو لښکرو ته د نيشاپور په شاوخوا کي ماته ورکړه. د وژل سويو کسانو کله منارونه يي جوړ کړل او هغه اوزبک سرداران چي ژوندي په لاس ورغلي ول هغوی يي د کله منارونو پرسر ژوندي په گچو کي ونيول. هغه کتاب ص ۲۹
صفي قلي خان له دې فتحی څخه وروسته د مشهد زيارت ته ولاړ. د زيارت خزانه يي چور کړه او بيا يي نو د هرات پر لور لښکر روان کړ. د اسدالله خان او صفي قلي خان پوځونه د کافرقلعه ( اوسنی اسلام قلعه) په سيمه کي سره مخامخ سول. د اسدالله خان قواوو د جنگ په لومړۍ مرحله کي د صفي قلي خان شپاړس کلن زوی وواژه او لږ وروسته، په هماغه ورځ، صفي قلي خان هم ووژل سو او يا ويل کيږي چي د زوی له غمه يې، چي ډېر سخت ورباندي گران وو، ځان پخپله وواژه. د قزلباشو پوځونه، چي پخوا يي لا د افغانانو له هيبته زړونه لړزېدل او د مقاومت توان يي له لاسه ورکړی وو، ډېره سخته ماته وخوړه. د افغانانو پوځ د قزلباشو څخه د پاته سويو مالونو په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

چوړولو لګیا سول او د هغوی د قواوو تعقیب یې پرېښود. اسدالله خان د هرات ښارته فاتح او منصور را ستون سو.
هغه کتاب ص ۲۸
مخکې مو وويل چې اسدالله خان د هرات له اشغالولو او کارونو له سمبالولو څخه وروسته د فراه ښار د هوتکو له قواوو څخه ونيوی. د اسدالله خان له دې فتحې څخه يو کال وروسته، شاه محمود هوتک، چې تازه يې له خپل اکا عبدالعزيز څخه قدرت ترلاسه کړی وو، د هغه ښار پر لور وخوځېدی. شاه محمود هم د اسدالله خان په څېر يو تکړه او زړه ور جنرال وو او دواړه پوځونه د دلارام په سيمه کې سره مخامخ سول. د دې سخت جنګ په نتيجه کې د ابداليانو قواوو ماته وکړه او اسدالله خان په جنګ کې ووژل سو. شاه محمود، د ايران د دربار او صفوي شاه حسين د غولولو لپاره، د اسدالله خان سر، د شاه حسين او خپل مشترک دښمن په حيث، د ايران دربار ته واستاوه.
د شاه محمود دې سياسي حيلې ډېر ښه کار وکړ. د ايران ساده پاچا، چې د روسيي سفير احمق بللی وو، وغولېدی. هغه په دغه نازک وخت کې چې هم قزوين ته تللی وو او د شاه محمود عريضه ورته ورسېدله. شاه حسين ډېر سخت خوشاله سو. شاه محمود هوتک يې صوفي صافي ضمير وباله. او د حسين قلي خان لقب يې ورکړ. تاريخ جهانګشای نادري ص ۸۵
په هرات کې د اوسېدونکو ابداليانو داخلي اختلافات او جنګونه:
د هرات ابداليان د اسدالله خان له وژل کېدلو څخه وروسته په ډېر بد حال بيرته هرات ته ستانه سول. د اسدالله خان پلار عبدالله خان يې، چې د خپل زوی له خوا د هرات نايب الحکومة مقرر سوی وو، له کاره برطرفه کړ او قدرت د احمدشاه بابا پلار محمدزمان خان ابدالي ته ورسېدی. هغه عبدالله خان بندي کړ او د هرات پخوانی صفوي حاکم جعفرخان استاجلو او د قزلباشو ځيني سرداران يې چې اسدلله خان بنديان کړي ول، ټول ووژل. څه وخت وروسته يې عبدالله خان هم وواژه. زمان خان دوه کاله ژوندی وو او د ده د قدرت په زمانه کې کومه د يادولو وړ پېښه ونه سوه. زمان خان د هرات په قلمرو قناعت وکړ او له هرات څخه دباندې يې نه د هوتک شاه محمود له قلمرو سره غرض وکړ او نه هوتکو پر هرات باندې د حملې کولو فرصت پيدا کړ. د زمان خان له وفات څخه وروسته بيرته د عبدالله خان ابدالي کورنی ته قدرت ورسېده او د دې کهول مشر محمد خان ابدالي د هرات او د هغه شاوخوا سيمو قدرت په خپل لاس کې واخيست.
محمدخان په ۱۷۲۷ ميلادي کال کې د مشهد د نيولو په نيت روان سو. هغه ښار يې څلورمياشتې محاصره کړ مګر د ښار فتح کول يې په وس پوره نه وه او بيرته هرات ته ستون سو. څرنګه چې محمدخان ډېر مستبد سړی وو او خپل او پردي ټول ورڅخه په عذاب ول نو د هرات خلکو د هغه په مقابل کې ښورښ وکړ او د محمدزمان خان مشر زوی ذوالفقار خان يې له ښوراوک څخه را وباله او د قدرت چاري يې وروسپارلې. د عبدالله خان ابدالي بل زوی عبدالرحمن، چې پلار يې ابدالي زمان خان وژلی وو، هرات ته داخل سو او د خپل پلار د وينو د کسات اخيستلو په منظور يې له ذوالفقار خان سره جنګ پيل کړ. د ابداليانو د قواوو ترمنځ د دې سخت اختلاف په وجه ابداليانو له هرات څخه د دوی دواړو د ايستلو فيصله وکړه. ذوالفقار خان باخرز او عبدالرحمن فراه ته ولاړ. د هرات د چارو واګې د عبدالله خان بل زوی الهيار خان واخيستلې. عبدالغني خان الکوزي، چې د ذوالفقار خان ماما وو، د هغه لپاره هلې ځلې پيل کړې او هغه يې بيرته هرات ته راوغوښت. په هرات کې يو ځل بيا ښورښونه پيل سول او دې داخلي جنګونو شپږ مياشتې دوام وکړ. بالآخره افغانانو خپل دواړه مشران له ښاره وايستل. افغانانو ته په دغه وخت کې د هرات پر لور د نادرافشار د لښکرو د حرکت خبر ورسېدی او په خپلو کې يې جوړه وکړه. ذوالفقار خان يې د فراه حاکم کړ او هرات يې الهيار خان ته وسپاره. الهيار خان د نادرافشار سره د مقابلې لپاره له ذوالفقار خان څخه مرسته وغوښتله او هغه هم له خپلو قواوو سره هرات ته راغی. ابداليان دا وخت له يوه قوي دښمن سره، چې تر دغه وخته يې د جنګونو ټول ميدانونه ګټلي ول، مخامخ سول او ايله د يووالي ضرورت يې احساس کړ.



په افغان جرمن آنلاين پورتال کې د جهاني صاحب آرشيف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ